مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر

۲۰۲۱/۰۲/۲۳

# ستا له تلو وروسته

لکه مني کې ديوال وکړي درزونه

يا په دښته کې ولاړه سپيره خونه

د زاړه زيارت د خوار ملنګ کوډله

پرې رپيږي څيري، څيري بيرغونه

يا مين چې معشوقه ترې ژر جدا شي

ورته پاته يې د زلفو درى تارونه

له جګړې وروسته د کلي تنها ونه

چې رامات يې وي له ويرې ټول ښاخونه

يا وطن مې چې د روس له يرغل وروسته

په هرکلي يې پراته د وير ګرزونه

وران کابل د ټوپکيانو د وختونو

پرې واکمني وي، څو دلي تنظيمونه

د شهيد پلار چې په کړوپه ملا روان وي

د زوی غم يې ور وچ کړي اندامونه

ځوانه کونده د خاوند قبر ته ناسته

پکې غوړي تللي تللي ارمانونه

يا مرغه چې هيڅ الوت کولی نه شي

کوم ښکاري يې ورمات کړي وي وزرونه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

ته ترې ولاړې زړه مې داسې نیمه خوا شو

ورته پاتې ستا د مینې څو یادونه

۱۹/ ۷/ ۱۳۹۲
نوی ښار- کلوله پشته
علم گل سحر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ